مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۵** (از ۱۴ الی ۲۱ قوس ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

## آسیا زړه کنفرانس او د افغان-پاک اړيکو نوې څپه

- د افغان-پاک اړيکو تېر یو کلن مزل ........ ۴
- د دوه‌اړخيزو اړيکو نوې څپه ........ ۵
- د اشرف غني تود هرکلی ........ ۵
- د سولې بهير بياپيل ........ ٦
- د افغانستان او سيمې د هېوادونو پر اړيکو د دغه کنفرانس اغېزې ........ ۷
- د آسيا زړه کنفرانس ارزونه ........ ۹

## سفر رئیس جمهور به اروپا؛ دست‌آوردها و تعهدات کمک‌ها

- آلمان و ادامۀ کمک به افغانستان ........ ۱۱
- ایتالیا و ادامۀ کمک به افغانستان ........ ۱۲
- دست‌آوردهای سفر به سویدن ........ ۱۲
- کنفرانس وزرای خارجۀ ناتو در بروکسل ........ ۱۳
- دست‌آوردهای سفر اروپا؛ از تعهد تا عمل ........ ۱۳

## مقدمه

د آسیا زړه-استانبول پروسې پنځم دوه‌ورځنی کنفرانس تېره اوونۍ په اسلام‌آباد کې جوړ شو. داسې اټکل کېده چې ولسمشر غني به په دغه کنفرانس کې ګډون ونه کړي، خو نوموړي په خپل ګډون سربېره، دغه کنفرانس ته زیات اهمیت هم ورکړ. په دغه کنفرانس کې د استانبول پروسې ۱۴ غړیو هېوادونو ۱۷ ملاتړو هېوادونو او ۱۱ نړیوالو سازمانونو ګډون کړی و. د دغو کنفرانسونو د لړۍ اصلي موخه د سیمه‌ییزو همکاریو پیاوړتیا او د افغانستان له سولې پروسې سره مرسته ده او له وروستي کنفرانس وروسته یو ځل بیا د سولې تم شوې پروسې او د سیمې له هېوادونو سره د رغنده اړیکو د پیلېدو هیلې راټوکېدلې دي.

دلته د ملي وحدت حکومت په تېر یوه کلن مزل کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو لوړو ژورو، د دوه‌اړخیزو اړیکو د نوې څپې، د افغان سولې بهیر په تړاو د تازه ژمنو، په آسیا زړه کنفرانس کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ دوه‌اړخیزو ناستو او د دغه کنفرانس د اغېزو په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې هم، اروپایي هېوادونو ته د افغان ولسمشر د شپږ ورځني سفر په اړه لولئ. ولسمشر غني له دغه اوږده سفر څخه له راستنېدو وروسته، په کابل کې د یوې غونډې پر مهال فرانسې، آلمان، ایټالیا او سویډن ته خپل سفر له لاسته راوړنو ډک وباله. په دغه سفر کې سویډن له افغانستان سره د یو ملیارد ډالرو او آلمان د ۳۸۰ میلیون یورو مرستې ژمنه وکړه. که څه هم د ولسمشر اقتصادي سلاکار عمر زاخېلوال ویلي، چې آلمان او سویډن د تازه مرستو ژمنه نه ده کړې او دا مرستې په ۲۰۱۲ کال کې د توکیو په کنفرانس کې ژمنه شوې وې؛ خو که د نویو مرستو ژمنه شوې وي او یا هم د پخوانیو مرستو ژمنې تازه شوې وي، پوښتنه دا ده، چې دا مرستې به څومره عملي جامه واغوندي.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# آسیا زړه کنفرانس او د افغان-پاک اړیکو نوې څپه




د پاکستان په پلازمېنه اسلام‌آباد کې د دسمبر پر ۸مه او ۹مه د آسیا زړه هېوادونو استانبول پروسې کنفرانس جوړ شو. دغه کنفرانس د استانبول پروسې له پیلېدو (۲۰۱۱ کال) راهیسې پنځم کنفرانس دی، چې د افغانستان په اړه جوړېږي. په دغه کنفرانس کې د سیمې د ډېری هېوادونو جګپوړو چارواکو برخه اخېستې وه، چې له دې جملې د چین د بهرنیو چارو وزیر "یانګ یي"، د هند د بهرنیو چارو وزیرې سشما سواراج، د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف او یو شمېر نورو چارواکو ګډون کړی و.

افغان ولسمشر اشرف غني هم په دغه کنفرانس کې د ګډون په موخه پاکستان ته سفر وکړ. پاکستانیانو د افغان ولسمشر تود هرکلی وکړ. په هوایي ډګر کې د پاکستان تر ټولو جګپوړي سیاسي او پوځي مشران د ده هرکلي ته ولاړ وو.

د افغان ولسمشر د سفر موخه یوازې په آسیا زړه کنفرانس کې برخه اخیستل نه وو، بلکې د دغه کنفرانس په څنډو کې افغان لوري د سیمې د نورو هېوادونو لکه د هند، ایران او چین له چارواکو سره هم دوه‌اړخیزې ناستې درلودې. د افغانستان د قضیې په تړاو یې دوې درې‌اړخیزې ناستې او یوه څلور اړخیزه ناسته هم درلوده. په دغو ناستو کې تر ټولو زیاته پاملرنه د افغانستان د سولې پروسې ته وشوه.

همدا راز د دغه کنفرانس په حاشیه کې د پاکستان او هند دوه‌اړخیزه ناسته هم وشوه، چې د دواړو هېوادونو د اړیکو پر نښه کولو پکې بحث وشو.

د افغانستان او پاکستان اړیکو په تېر یوه کال کې ډېرې لوړې او ژورې لرلې. دا چې دا اړیکې په تېر یوه کال کې له کومو پړاوونو تېرې شوې، د آسیا زړه کنفرانسونو لړۍ تر اوسه څه کړي او همدا راز پاکستان ته د اشرف غني دغه سفر به پر افغان-پاک اړیکو او د سولې په بهیر څه اغېزې وښندي، دلته پرې شننه شوې ده.

## د افغان-پاک اړیکو تېر یو کلن مزل

تېر کال افغان ولسمشر په یوه بې‌مخینې هڅه کې د تېر ۱۴ کلن بهرني سیاست برعکس له پاکستان سره اړیکې ښې کړې، پاکستان ته یې ګڼ شمېر امتیازات ورکړل او د اسلام‌آباد د اندېښنو د کمولو په موخه یې د کابل او ډهلي ترمنځ واټن زیات کړ. له همدې کبله د کابل-اسلام‌آباد ترمنځ د جګ‌پوړو چارواکو سفرونه هم زیات شول.

د اړیکو له رغېدو وروسته، د سولې پروسې په اړه پخې ژمنې وشوې او د دې پروسې د بریا لپاره هیلې زیاتې شوې. په دې منځ کې په پلازمېنه کابل کې پرله‌پسې خونړۍ چاودنې وشوې، د جګړې لمن د هېواد شمال ته پراخه شوه او په ټول هېواد کې د ناامنیو پېښې زیاتې شوې. د ناامنیو ترڅنګ د پاکستان هغه ژمنې چې افغان طالبان به له افغان حکومت سره د خبرو مېز ته کېنوي، له یوې نېټې څخه بلې نېټې ته وځنډول شوې.

د کابل ښار د شاه‌شهید له خونړۍ پېښې سره افغان-پاک اړیکې د لا ډېرو خرابېدو په لور ولاړې. دغې سیناریو د افغانستان رسنۍ، پارلمان او عام خلک د پاکستان په اړه بدګمانه کړل او بیا یې په مجموع کې پر ملي وحدت حکومت داخلي فشارونه زیات کړل. همدا لامل و، چې د ملي وحدت حکومت هم د پاکستان په اړه خپله تګلاره بدله کړه او له هند سره د اړیکو جوړولو په تکل کې شو. په بل اړخ کې پاکستان په ټینګار سره د سولې خبرو د بیا پیلولو په اړه ټینګار وکړ او د "پښتنو" له کارد څخه یې هم ګټه واخېسته، ترڅنګ یې د افغانستان د سولې د بیا پیلېدو په موخه سیمه‌ییزه ډیپلوماسي هم فعاله شوه او ورو ورو د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکو، یوه نوې څپه واخېسته.

## د دوه‌اړخيزو اړيکو نوې څپه

په وروستيو څو مياشتو کې د کابل-اسلام‌آباد اړيکې ډېرې سړې شوې وې او په هېواد کې د ناامنيو له زياتېدو سره افغان ولسمشر اشرف غني په څرګندو ټکو کې وويل، چې «افغانستان له پاکستان سره په يوه نااعلان شوې جګړه کې ښکېل دی» او په دې توګه يې د اړيکو ښه کول او د سولې پروسې بياپيلول، د پاکستان له خوا د نړيوال ضمانت له ورکولو سره وتړل. څو ورځې وړاندې يو شمېر پښتنو قوم‌پالو مشرانو کابل ته سفر وکړ او له ځان سره يې د پاکستان د لومړي وزير نوازشريف دا پيغام هم راووړ، چې که ولسمشر غني له ده سره د پاريس د کنفرانس په يوه څنډه کې وګوري.

که څه هم په پاريس کې له نوازشريف سره کتنه د افغان ولسمشر د اجنډا برخه نه وه؛ خو د پښتنو مشرانو په هڅونه او د چين او امريکا تر فشار لاندې، اشرف غني له نوازشريف سره د انګلستان په منځګړتوب يوه دري‌اړخيزه ناسته کې او دغه راز په يوه بله دوه‌اړخيزه ناسته کې وکتل. په همدغو ناستو کې نوازشريف افغان ولسمشر ته، په آسيا زړه کنفرانس کې د ګډون بلنه ورکړه او په لومړي ځل يې د افغان سولې بهير په تړاو څلور اړخيزه تګلاره هم اعلان کړه، چې چين، امريکا، افغانستان او پاکستان به پکې شامل وي.

د ځينوسر چينو له مخې، افغان ولسمشر د پاريس په کتنه کې د نوازشريف له خبرو اترو نه و متاثر شوی؛ بلکې وروسته يې کله چې د پاکستان له لوی درستيز سره د يوه ويډيويي کنفرانس له لارې خبرې وکړې، نو دی يې پاکستان ته د تګ لپاره نور هم وهڅاوه. همدا راز د افغانستان او پاکستان په نږدې اړيکو کې د چين او امريکا ډېره لېوالتيا هم د دې لامل شوه، چې پر اشرف غني فشارونه زيات کړي، څو د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړيکې بېرته عادي شي. د همدې دوو لاملونو له کبله اشرف غني پاکستان ته د آسيا زړه کنفرانس کې د برخې اخيستو په موخه سفر وکړ او هلته په ناڅاپي ډول د پاکستان له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو.

## د اشرف غني تود هرکلی

په پاکستان کې د ولسمشر اشرف غني ډېر تود هرکلی وشو. عموماً په پاکستان کې دا ډول هرکلي د چين ولسمشر او د سعودي بادشاه ته ځانګړي شوي وي؛ خو له اشرف غني څخه دا ډول هرکلي، ان په خپله افغان لوری هم حيران کړ. دا چې پاکستان د اشرف غني دومره تود هرکلی ولې وکړ، لاملونه يې په لاندې ډول دي:

- پاکستان غواړي، چې د طالبانو ترخنګ افغان حکومت هم له لاسه ورنه کړي؛

- پاکستان غواړي، هند ته د حنیف اتمر او حکمت خلیل کرزي د وروستیو سفرونو له کبله، کابل له لاسه ورنه کړي؛
- د پاکستان او چین اقتصادي حوزې د پاکستاني سیاسیونو او نظامي مشرانو فکر وربدل کړی، دوی اوس خپله له بلوچانو او بګټي کورنۍ سره په خبرو اترو بوخت دي، ځو دغه ستونزه هواره کړي. د دې ترڅنګ په افغانستان کې هم، چې د دغې لویې پروژې په بریالیتوب کې رول لري، امنیت ټینګ شي؛
- دا یو دیپلوماتیک پروتوکول و، څو نړیوالو او آسیا زړه کنفرانس کې ګډون کوونکو ته خپل صداقت وښیي.

## د سولې بهیر بیاپیل

د آسیا زړه کنفرانس له ختمېدو سره یو ځل بیا دا هیلې راوټوکېدې، چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ به د سولې خبرو اترو دویم پړاو ډېر ژر پیل شي. په پاریس کې د افغان ولسمشر او د پاکستان د لومړي وزیر په دوه‌اړخیزه ناسته کې نوازشریف وړاندیز وکړ، چې دا ځل به د سولې خبرو اترو څلور اړخیزې ناستې وشي، چې د افغانستان او پاکستان ترڅنګ به امریکا او چین هم پکې برخه واخلي.

د آسیا زړه کنفرانس په څنډو کې د افغانستان-پاکستان-امریکا؛ او د افغانستان-پاکستان-چین درې‌اړخیزې او د افغانستان-پاکستان-امریکا-چین څلور اړخیزه ناستې وشوې. په دغو ټولو ناستو کې د اعلامیو له مخې، د افغانانو په مشرۍ د سولې پر خبرو اترو ټینګار شوی و. دا ځل په دې خبرو کې د سولې په اړه درې نوې خبرې وشوې:

**لومړی**: افغانستان، پاکستان او امریکا ویلي، چې داسې شرایط باید چمتو شي، چې وسله‌وال طالبان د سولې پر بهیر باور ومومي او خبرو ته زړه ښه کړي[1]؛

**دویم**؛ چین او امریکا به هم په خبرو کې مخامخ ونډه اخلي، ترڅو د کابل او اسلام‌آباد بدګماني ختمې کړي؛

**درېیم**: د افغانستان اساسي قانون ته به درناوی کېږي[2].

د افغان ولسمشر او د پاکستان لوی درستیز ترمنځ په ناسته کې هم د سولې بهیر پر بیاپیلولو موافقه وشوه. همدا لامل و چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر وویل: «د نن ورځې په کتنو کې د خبرو اترو یوه مهمه موضوع،

---

[1] په دې اړه ولولئ، د څلور اړخیزې ناستې اعلامیه: http://mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzMyMw„

[2] په دې اړه ولولئ، د درې‌اړخیزې ناستې اعلامیه: http://mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzMyNA„

په افغانستان کې د سولې بهیر و. د سیمې ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه، چین، امریکا او پاکستان هوډ څرګند کړ، چې په دغه پروسه کې به له افغانستان سره همکاري کوي. که څه هم دا چاره به وخت ونیسي، خو زموږ هیله دا ده چې په راتلونکو څو اوونیو کې د دې خبرو پایله‌وګورو.»

## د افغانستان او سیمې د هېوادونو پر اړیکو د دغه کنفرانس اغېزې

د آسیا زړه کنفرانس په یوه برخه کې د سیمې د هېوادونو مشرانو د دوه‌اړخیزو اړیکو رغولو په موخه له یو بل سره ولیدل او په دې تړاو دغه کنفرانس د هند-پاکستان اړیکو او افغانستان-پاکستان اړیکو په ښه کولو کې هم رول ولوباوه.

**پاکستان-هند اړیکې:** که څه هم د هند لومړي وزیر نارېندرا مودي په خپله لوړه کې په یوه ابتکاري هڅه کې د سارک هېوادونو مشران هند ته راوبلل او په دې تړاو یې د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف هم دهلي ته وغوښت؛ خو له دغې سمبولیکې هڅې پرته د هند او پاکستان اړیکې تر ډېره کړکیچنې وې. دواړو هېوادونه څو ځله د پولې پر سر په وړو شخړو کې ښکېل شول، خبرې اترې وځنډول شوې او د دواړو ترمنځ دغو خرابو سیاسي اړیکو ان د لوبو میدانونه هم اغېزمن کړل (د دوی ترمنځ د کرکټ مسابقو پیلېدل هم له سیاستونو اغېزمن دي).

د آسیا زړه کنفرانس ته د هند د بهرنیو چارو وزیره د پاکستان په بلنه اسلام‌آباد ته راغله او په دې توګه له ۲۰۱۲ کال وروسته د هند لومړنی لوړپوړې چارواکې شوه، چې پاکستان ته یې سفر وکړ.

د آسیا زړه کنفرانس په څنډو کې د هند د بهرنیو چارو وزیرې د پاکستان له لومړي وزیر نوازشریف او په بهرنیو چارو کې د لومړي وزیر له سلاکار سرتاج عزیز سره ولیدل. په دغه دوه اړخیزه ناسته کې دواړو هېوادونو "ترهګرۍ" وغندله او په له منځه وړلو کې یې د همکارۍ ژمنه وکړه. همدا راز دواړو خواو په بنکاک کې د دواړو هېوادونو د ملي امنیت د سلاکارانو له خبرو اترو هرکلی وکړ او پریکړه یې وکړه چې باید په راتلونکې کې هم دوی له ترهګرۍ سره تړاو لرونکې نورې ستونزې هم بحث کړي. د دې ترڅنګ دواړو هېوادونو د سولې او امنیت، باور جوړونې، کشمیر، سیاچن، د اوبو ستونزې، اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ، تروریزم-ضد، مخدره

توکو کنټرول، انساني حقوق، د خلکو ترمنځ روابطو او د یو بل مذهبي ځایونو څخه د لیدنې په موخه خپلو بهرنیو چارو وزارتونو ته لارښوونه وکړه، چې په دې اړه د کتنو مهالوېش برابر کړي[3].

**افغانستان-پاکستان اړیکې:** د آسیا زړه کنفرانس کې د ولسمشر غني له ګډون سره د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکو نوی موج واخیست، دواړو لورو د سولې پروسې له بیاپیلولو سره همغږي وښوده. دغه کنفرانس په موقتي ډول د دواړو هېوادونو ترمنځ ځینې بې‌باورۍ له منځه یوړې؛ خو بیا هم د اوږدمهالو اړیکو بنسټ به د سولې پروسې د دویم پړاو په بریالیتوب پورې مستقیم تړاو ولري او پایلې به یې په راروانه میاشت کې ولیدل شي.

**افغانستان-چین اړیکې:** د دغه کنفرانس په یوه برخه کې د افغانستان ولسمشر او د چین د بهرنیو چارو وزیر په کتنه کې هم څو مهم پرمختګونه ترسترګو شول:

- افغانستان د چین په نړیوال آسیایي انکشافي بانک کې د غړیتوب غوښتنه وکړه، څو د چین دغه بانک په افغانستان کې د اورګاډي د پټلۍ غځولو او واخان بندر له لارې افغانستان له چین سره په نښلولو کې، مرسته وکړي؛
- افغان لوري د برېښنا تولید، د کورونو جوړولو او په انکشافي برخه کې د چین، افغانستان او جرمني د ګډې همکارۍ وړاندیز وکړ. د چین د بهرنیو چارو وزیر د دغه وړاندیز هرکلی وکړ او په دې اړه د یوې کمېټې د جوړولو غوښتونکی شو؛
- له ترکمنستانه چین ته د غازو نللیکې غځولو کې افغان لوری مرستې ته چمتو دی؛
- افغان حکومت په رسمي توګه د چین له حکومت څخه وغوښتل، چې د چین حکومت د میس-عینک کان قراردادي کمپنۍ، چې د اورګاډي کرښې د جوړولو ژمنه یې کړې وه، د خپلې ژمنې ترسره کولو ته وهڅوي؛
- افغانستان په رسمي توګه د افغان هوایي ځواکونو د تجهیز په برخه کې له چین څخه مرستې وغوښتې[4].

**افغانستان-ایران اړیکې:** په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور، چابهار بندر او د اوبو مدیریت د افغانستان او ایران د چارواکو ترمنځ د بحث موضوعات وو. ایراني لوري تر ډېره د داعش د موضوع او چابهار بندر پر ارزښت رڼا واچوله او افغان ولسمشر بیا د هلمند د اوبو په قضیه کې د ایرانیانو د اندېښنو په اړه وویل، چې په دې اړه معاهده شته ده او د تطبیق په هکله به یې د دواړو هېوادونو استازي له یو بل سره خبري وکړي[5].

---

[3] په دې اړه ولولئ، د پاکستان او هند ګډه اعلامیه: http://mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzMyMg

[4] په دې اړه ولولئ، د ولسمشرۍ ماڼۍ اعلامیه: http://president.gov.af/ps/news/56708

[5] په دې اړه ولولئ، د ولسمشرۍ ماڼۍ اعلامیه: http://president.gov.af/ps/news/56709

## د آسیا زړه کنفرانس ارزونه

د آسیا زړه کنفرانس چې د ترکیې په ابتکار په ۲۰۱۱ کال کې پیل شو، موخه یې د افغانستان د امنیت او ثبات په اړه د سیمه‌ییزو همکاریو راجلبول دي. که څه هم د دغو کنفرانسونو د جوړېدو کمه موده کېږي او افغان لوري هم په وروستیو دوو کلونو کې د تېر برعکس ډېره پاملرنه ورته کړې؛ خو بیا هم د دوه‌اړخیزو اړیکو له بیارغولو پرته یې څه نه دي کړي.

په ۲۰۱۱ کال کې هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې خرابې وې؛ خو د ترکیې په منځګړتوب څو ځله د آسیا زړه کنفرانس له لارې هڅه وشوه، چې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې شي.

د دې ترڅنګ دغه کنفرانس د سیمې د نورو هېوادونو ترمنځ هم د اړیکو په رغولو کې رول لوبولی دی. د بېلګې په ډول د هند او پاکستان اړیکې ډېرې سړې وې او د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه د دواړو هېوادونو ترمنځ ناسته ناشونې وه؛ خو د ۲۰۱۵ کال آسیا زړه کنفرانس د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه‌اړخیزو ناستو موقع برابره کړه.

# سفر رئیس جمهور به اروپا؛ دست‌آوردها و تعهدات کمک‌ها



رئیس جمهور غنی در سفر رسمی شش روزه‌اش به کشورهای اروپایی به فرانسه، آلمان، ایتالیا و سویدن سفر کرد و روز دوشنبه (7 دسامبر) در مورد دست‌آوردهای سفرش، در کابل به رسانه‌ها معلومات داد. رئیس جمهور ابتدا به فرانسه رفت و در آنجا ضمن سخنرانی در کنفرانس بین‌المللی تغییر اقلیم، با رئیس جمهور آن کشور دیدار داشت. او سپس عازم کشورهای آلمان، ایتالیا و سویدن گردید و قراردادهایی را هم با آن کشورها به امضا رسانید. در اعلامیۀ ارگ ریاست جمهوری، این سفر پردست‌آورد گفته شده است. در اعلامیه آمده است:

"محمد اشرف غنی، رییس جمهوری اسلامی افغانستان در سفر اخیر خود به اروپا توانست که پایه‌های مستحکم همکاری‌های بلندمدت میان افغانستان و کشورهای اروپایی را بر اساس تعهدات عمیق و وسیع شان نسبت به دولت و ملت افغان در چند دهۀ آینده، بریزد. این سفر بخشی از تلاش‌های او برای تقویت همکاری‌های بین‌المللی با افغانستان مستقل است. خوشبختانه، با توجه به تعیین اولویت‌های حکومت‌های کشورهای اروپایی در قسمت کمک‌های انکشافی بین‌المللی، رئیس جمهور غنی توانست که به هدف خود، یعنی تجدید همکاری‌های درازمدت میان افغانستان و اروپا، نایل آید."

حکومت افغانستان مدعی است در طول یک سال گذشته تلاش‌های خستگی ناپذیری را برای جلب اعتماد "شرکای بین‌المللی" انجام داده که تامین شفافیت و حسابدهی در چهارچوب اجندای تحقق خود اتکایی، گزارش‌دهی به منابع تمویل کننده، تطبیق موفقانهٔ تمهیدات صندوق بین‌المللی پول (IMF) و اجرای تمام شرایط و شاخص‌های تعیین شدهٔ نهاد مذکور برای اولین بار از سال ۲۰۰۵ میلادی به این‌سو، دست یافتن به اهداف از پیش تعیین شده در قسمت عواید داخلی و تخصیص بودجه، و در نهایت ایجاد برنامهٔ روشن برای چگونگی دریافت و اجرای کمک‌های انکشافی، از جملهٔ این تلاش‌ها به شمار می‌آید.

## آلمان و ادامهٔ کمک به افغانستان

در سفر رئیس جمهور به آلمان، حکومت آن کشور تعهد نمود تا سال 2020 میلادی سالانه 250 ملیون یورو را از طریق وزرات انکشاف دهات افغانستان و 180 ملیون یورو را از طریق وزارت امور خارجهٔ آلمان به افغانستان کمک نماید. این پول‌ها در بخش‌های انکشاف پایدار اقتصادی، حکومت‌داری خوب، انرژی‌های پاک و تجدیدپذیر، آب آشامیدنی و بهداشت، تعلیمات اساسی و آموزش حرفوی به منظور ارتقای ظرفیت‌ها، به مصرف خواهد رسید.

بخش دیگر از همکاری دولت آلمان کمک سالانه 25 ملیون یورو است که در بخش اشتغال برای صلح، به مصرف خواهد رسید. به نظر می‌رسد که این کمک برای اشتغال‌زایی به منظور ایجاد کار برای کسانی خواهد بود که از خشونت دست می‌کشند و به پروسهٔ ادغام مجدد می‌پیوندند.

دولت آلمان تعهد نمود که اقدامات تشویقی را برای ورود تولیدات افغانستان به آلمان، روی دست گرفته و نیز سرمایه‌گذاران آلمان را تشویق به سرمایه‌گذاری در افغانستان سازد.

در بخش کمک به امنیت در افغانستان که با مسایل نظامی رابطه می‌گیرد، کشور آلمان از ماموریت حمایت قاطع در افغانستان پشتیبانی نموده و تعداد سربازان خود را به 980 سرباز افزایش خواهد داد.

## ایتالیا و ادامۀ کمک به افغانستان

کشور دیگری که رئیس جمهور در سفر به اروپا از آن دیدن نمود، کشور ایتالیا بود. ایتالیا هم در طول سال‌های بعد از 2001 به افغانستان در بخش‌های نظامی، اقتصادی و ارتقای ظرفیت‌ها به خصوص در بخش قضا، کمک کرده است.

دولت ایتالیا تعهد نمود که غرض سرمایه‌گذاری در احداث راه آهن که هرات افغانستان را به خطوط آهن ایران وصل نماید به افغانستان 65 ملیون یورو فراهم سازد. احداث این خط آهن، به افغانستان امکان پیوستن به اروپا را از طریق شبکۀ خطوط آهن ایران، فراهم می‌نماید.

همچنان دولت ایتالیا برای تکمیل پروژۀ میدان هوایی هرات و مبدل ساختن آن به مرکز فعالیت‌های اقتصادی در سطح بین‌المللی کمک خواهد کرد. بهبود وضع ترانسپورت در غرب افغانستان نیز از برنامه‌های دولت ایتالیا است و این کشور برای احداث جادۀ هرات تا چشت شریف به شکل معیاری، مبلغ 92 ملیون یورو قرضه با شرایط سهل را در اختیار افغانستان خواهد گذاشت.

مانند آلمان، ایتالیا هم وعده سپرد تا سرمایه‌گذاران این کشور را برای سرمایه‌گذاری در افغانستان به خصوص در سکتور انرژی، تشویق نماید. توافقنامه‌هایی هم در بخش‌های فرهنگی و همکاری‌های فنی میان دو کشور به امضا رسید.

## دست‌آوردهای سفر به سویدن

سویدن نیز از جمله کشورهایی است که از دوران جهاد علیه اتحاد شوروی از کشورهای کمک‌دهنده به مهاجرین افغانستان در پاکستان بوده است. کمیتۀ سویدن برای افغانستان در آن زمان در پیشاور فعال بود.

در سفر اشرف غنی به سویدن، دو کشور یک موافقتنامه در مورد همکاری‌های انکشافی به امضا رسانیدند. جانب سویدن در مورد چگونگی حسابدهی مصارف کمک‌های مالی‌اش در افغانستان نگران است و در این سفر روی یک میکانیزم به منظور حسابدهی از کل کمک‌های این کشور به افغانستان و به تفکیک مصرف از طریق بودجۀ ملی و نهادهای غیر دولتی توافق صورت گرفت.

بر این بنیاد، دولت سویدن توافق نمود تا سال 2024 کمک‌های مالی به ارزش یک ملیارد دالر در اختیار دولت افغانستان قرار دهد.

در سایر بخش‌ها نیز سویدن توافق نمود تا در بخش سرمایه‌گذاری خصوصی، به خصوص در بخش انرژی‌های پاک و تجدیدپذیر، امکانات لازم را جستجو نماید و همچنان در بخش تعلیمات حرفوی و مسلکی که روی تقویت ظرفیت‌ها نقش مهم دارد، با افغانستان کمک نماید.

## کنفرانس وزرای خارجۀ ناتو در بروکسل

به تاریخ اول دسامبر و پس از پایان اجلاس تغییر اقلیم در پاریس، صلاح الدین ربانی وزیر خارجۀ افغانستان برای شرکت در اجلاس وزاری خارجۀ کشورهای عضو ناتو به بروکسل رفت. در این اجلاس غیر از وزرای خارجۀ عضو پیمان ناتو که در ماموریت حمایت قاطع سهم دارند، نمایندگان کشورهای جاپان و کوریای جنوبی نیز شرکت داشتند.

در این نشست دبیر کل ناتو از توانایی‌های نیروهای مسلح افغانستان در جنگ، ستایش نمود و گفت که ماموریت نیروهای ناتو تا ختم سال 2016 یعنی یک سال دیگر تمدید خواهد شد. در نشست ناتو در بروکسل، در مورد افغانستان روی سه نکته توافق صورت گرفت:

**1-** ادامۀ حضور 12 هزار تن از نیروهای ناتو در چهارچوب ماموریت حمایت قاطع تا پایان سال 2016 میلادی.

**2-** تلاش تازه‌ای برای فراهم نمودن منابع مالی برای نیروهای نظامی افغانستان تا سال 2020 میلادی.

**3-** برنامه‌ریزی برای حضور غیرنظامی ناتو در افغانستان، تحت نام (مشارکت پایدار ارتقا یافته) که پس از سال 2016 میلادی آغاز خواهد شد.

## دست‌آوردهای سفر اروپا؛ از تعهد تا عمل

سفر رئیس جمهور به کشورهای اروپایی بار دیگر تعهداتی را در جهت کمک در بخش‌های انکشافی، اقتصادی و امنیتی در قبال داشت، اما سوال عمده در این رابطه این است که آیا حکومت موجود افغانستان از ظرفیت‌های لازم برای ایجاد زمینه برای استفاده از این کمک‌ها، برخوردار است؟

اگر تنها کمک‌های مالی می‌توانست حلال مشکلات یک کشور باشد، افغانستان که در طول 14 سال گذشته از ده‌ها ملیارد دالر کمک بین‌المللی برخوردار شد باید وضعی به مراتب بهتر از امروز می‌داشت. تجربهٔ 14 سال گذشته نشان داد که نبود ظرفیت‌های لازم برای جذب کمک‌ها فقط به چپاول گستردهٔ این کمک‌ها توسط یک قشر معدود انجامید و اکثریت مردم افغانستان از آن بهره‌ای نبردند.

وعدهٔ اصلی رئیس جمهور غنی در جریان انتخابات ریاست جمهوری به مردم افغانستان این بود که اشخاص صادق و مسلکی را به وظایف دولتی خواهد گماشت و با فساد مبارزهٔ جدی خواهد کرد، اما در عمل وضع کابینهٔ حکومت وحدت ملی بدتر از دوران حامد کرزی است.

تعهد حکومت وحدت ملی به مبارزه با فساد اداری از تجدید نظر به قضیهٔ کابلبانک آغاز شد، اما این تعهد زمانی به شدت زیر سوال رفت که یکی از چپاول‌گران اصلی این بانک، از زندان بیرون آمد تا قرارداد ساخت یک شهرک را با دولت به امضا برساند.

هرچند کشورهای آلمان، ایتالیا و سویدن به کمک به افغانستان تعهد کرده‌اند و رئیس جمهور غنی نیز آنرا یک دست‌آورد مهم برای خود و حکومتش می‌داند، اما با توجه به ضعف ظرفیت و فساد اداری گسترده که مبارزهٔ حکومت وحدت ملی با آن فقط در حرف خلاصه شد، گمان نمی‌رود که کشورهای تعهد کننده، تعهدات خود به افغانستان را عملی سازند؛ مگر اینکه تحولی بنیادی و عمیق در افغانستان به میان آید تا کشورهای تعهد کننده مطمئن گردند، وجوهی که از مالیات مردم خویش گرد آورده‌اند، در نتیجهٔ جنگ یا فساد در افغانستان مانند چهارده سال گذشته به هدر نخواهد رفت.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.